شریعت

ورځپاڼه

SHARIAT DAILY

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان

شپږم کال ٤٨مه ګڼه پرله پسه (٤٢٧)چارشنبه د١٤٢٢هـ ق دربیع الثانی (١٣)
د ١٣٨٠ هـ ش کال دسرطان (١٣) د٢٠٠١ میلادی کال دجولای (٤)

پہ غور کی اسلامی امارت تہ تسلیم شوی قوماندان علی محمد :

اسمٰعیل خان په غور کی د خلکو له عمومی پاڅون سره مخامخ شو

د غور ولایت په بوسلو شلو اړوندو کلیو کی بیا د امنیه سوله او امنیت تامین شویدی او د دغو کلیو خلکو د اسمعیل خان باغی افراد له خپلو سیمو څخه شړلی دی . دباختر اطلاعاتی اژانس خبر راکړ د غور ولایت دمقام هیأت د محترم ملا عبرت اخند په مشری په داسی حال کی چې د دغه ولایت د امنیه قوماندانی او داستخباراتو د ریاست چارواکی ورسره ؤ په هغو قوماندانانو پوری اړونده پوستی چې د دوه سوه تنو وسله والو افرادو او د پنځه سوه د بی وسلی افرادو په ګډون څه موده مخکی له اسلامی امارت سره یوځای شویدی او د الندر او اریشی په کلیو کی موقعیت لری وکتلی او د اسلامی امارت د مخالفینو د ناوړو هدفونو د پاېنولو په ترڅ کې یې په دی برخه کی د قوماندانانو رانلونکی مسئولیتونه جوت کړل وروسته محترم قوماندان علی محمد له اسلامی امارت سره د یوځای شوېو قوماندانانو په نمایندګی خبری وکړی او د معترضو هیوادونو د لاس وهنو د غندلو په ترڅ کی یی زیاته کړه چې تورن اسماعیل خان په دی وروستیو وختو کی د امنیت د ګډوډولو په

٤ مخ

الهی فرمان

هغه ورځ (دې وریاد کړی)
چې خپلې ژبې ، لاسونه او پښې
به یې په هغو عملونو شاهدی
وایی چې کول به یې.
(٢٤- النور)

د بهرنیو چارو وزیر په مطبوعاتی کانفرانس کې:

دافغانانو پرخلاف د بندیزونو دوام د ظالمانه پریکړو دوام دی

پہ کابل کی د اسلامی کانفرانس دفتر پرانیستل د خوشالی خبره ده

هیڅوک حق نه لری زموږ له خاوری ځاته ګواښونه وکړی

دهندوانو د توپیری نښې موضوع تر بحث لاندی ده

دبشری خدمتونو اوبنا ترمیم لپاره دی آریانا الوتکو ته اجازه ورکړی شی

د کوکنارو له بندیز سره بزګرو ته مرستی نه دی ورکړی شوی

ځینی ایرانی حلقی افغانستان ته وران کاری را استوی

د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوی وکیل احمد متوکل په افغانستان کې د اسلامی هیوادونو د کنفرانس د سازمان د دفتر پرانستل چې د اسلامی هیوادونو د کنفرانس د سازمان د بهرنیو چارو د وزیرانو په وروستی غونډه کې پریکړه وشوه د افغانستان خلکو ته د خوشحالی خبر وباله او وی ویل : چې دغه دفتر به په نړیدی راتلونکی کی په

٤ مخ

داکتر عبدالله له روسانو نوری وسلی هم راوړی

بهرنی خبری سرچینې : دافغانستان د پخوانی لری ګړل شوی ولس مشر برهان الدین ربانی د اداری په اصطلاح د بهرنیو چارو وزیر ډاکتر عبدالله مسکو ته په سفر تللی دی . ده د پخوانی شوروی د هم ګنو هیوادو د استازو او د روسیی د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال سره

ص ٤

ملا عبدالسلام ضعیف :

محاکمه قاتلان صلاح الدین به زودی آغاز خواهد شد

دونفر پولیس ملوث درقتل او گرفتار شده اند

اسلام آباد - افغان اسلامی آژانس : ملا عبدالسلام ضعیف سفیر امارت اسلامی افغانستان در اسلام آباد گفته است که کشته شدن بی موجب صلاح الدین افغان تبارما راخیلی آزرده ساخته است موصوف گفت : ما در مورد محاکمه دو

ص ٤

د(٥٠٠) فامیلی ټیوونځی د اوبو سیستم فعال شو

کابل- شریعت : د پنځه سوه فامیلو ټیوونځی هغه ټیوونځی دی چې د هیواد ۳۰۰ بچیان په کی د ۵۰ ټیوونکو لخوا روزل کیږی .

٤ مخ

دفتر نمایندگی پست سریع باختردر شهر پشاور باز گردید

پشاور - شریعت : اخیراً دفتر نمایندگی پست سریع باختر درشهر پشاور پاکستان به کار

ص ٤

بررسی اثرات سوء تعزیرات ملل متحد بریکر آریانا در گزارش خبرنگار روزنامه شریعت :

مسوولیت سقوط (آریانا افغان هوائی شرکت) متوجه ملل متحدخواهد بود

یگانه راه بیرون رفت از این سقوط رفع تعزیرات ملل متحد میباشد تداوم تعزیرات رفته، رفته طیارات آریانا را به توده های آهن مبدل خواهد ساخت

زاثر وضع تعزیرات آریانا ٤٠٠ تن از پرسونل خویش را ازدست داد

کابل - شریعت : تداوم تعزایرت ملل متحد درقبال پرواز های خارجی آریانا سبب خواهد شد تارفته رفته این طیارات قابلیت پرواز را از دست داده ودرآینده های نه چندان دور به توده های از آهن مبدل شوند . خبر نگار مادرزمینه چنین گزارش میدهد : دآریانا افغان هوائی شرکت طی ٤،٦ سال سابقه خدمت در افغانستان به حیث یك شرکت تجارتی (حمل ونقل هوائی) توانسته است هویت ملی وبین المللی خویش را

ص ٢

عکس ها : طیارات آریانا افغان هوائی شرکت در میدان هوائی بین المللی کابل

عکاسی یوسف

در ولسوالی برکی برک ٧ باب مسجد و ٢٠٠ خانواده از نور برق مستفید گردید ند

لوگر- شریعت : با نصب یك پایه جنراتور ١٥٠ کیلو واته ٢٠٠ خانواده در قراء شیخ خیل ، قلعه عباس؛ ازیك خیل ورستم خیل ولسوالی برکی برك ولایت لوگر از نور برق مستفید گردیدند .

ص٤

درهرات یك مقدارسلاح ومهمات ایرانی کشف گردید

هرات : موظفین امنیتی ولایت هرات یك تعداد اسلحه ومهمات ساخت ایران را از مربوطات ولسوالی گذره آن ولایت کشف وبدست آورده اند . آژانس اطلاعاتی باختر خبرداد: سلاح ومهمات متذکره شامل

ص٤

برنده مسابقه فوتبال دیروز تیم اتحاد بود

کابل - شریعت : به سلسله تورنمنت بهاری فوتبال مسابقه جالب فوتبال عصر دیروز بین تیم های اتحادوسمارون دراستدیوم ورزشی کابل به راه اند اخته شده بود . خبرنگار ما از استدیوم

ص٤

سرمقاله

دلوی او بښونکی خدای «ج» په نامه

آیا نړیوال د افغان ولس له کړاوونو خبر نه دی؟

د «افغان مجاهد ولس» په لاس د شوروی سری ځورونکی امپراطوری له دړې وړې کیدو را وروسته چې کله نړیوالو د آرام ساه واخیسته او ځان یې هدف ته رسیدلی وګاڼه نو د یر ژر یې د خپل محسن او میړنی افغان ولس په مقابل کې تګلاره بدله او د بې وفایی او ناځوانی یو تاریخی ریکارډ یې جوړ کړ چې په څرګند ډول د لویدیځ کلتور د یوې ستری نیمګړتیا شاهدی وایی . داچې افغانانو د روسانو سر او پښې ورمات کړل نو طبیعی ده چې خپل ځان به یې هم تپی تپی او هیواد به یې پکې وران او کنډواله ګرځیدلی وی . چې په دې توګه د افغانانو پتمن هیواد له بې درکه

٢ مخ

چین :

درمقابل باداری امریکا خواهیم جنگید

پیکینگ : رئیس جمهور چین دریك بیانیه به هم فکران خود گفت: اگر تایوان آواز آزادی بلند نماید رهبری هدایت جنگ را به عهده خو

ص٤

درایران دو تن اعدام شد

رادیو تهران : دوتن ایرانی اخیراً ازطرف محکمه نظامی آن کشور اعدام شد ،رادیو تهران خبر داد مجرمین که دونفر از صرافان یك بانك را به

ص٤

جنایات امریکایی هادرجاپان برملا گردید

بی بی سی - شریعت : امریکا از عملکرد های سربازان خویش درجاپان پشیمان است. یك قوماندان قوای نظامی امریکا درجزیره اوکیناوای جاپان

ص٤

متشبثین خصوصی در خدمت مردم

بخاطر حفظ صحت مردم

در هرماه چاه های آب کلو ریشن میگردد

(رئیس فابریکه یخ سازی افضل)

کابل - شریعت : امروز تجار و متشبثین خصوصی ما در برابر یك مسؤلیت بزرگ قرار دارند وزمانی میتوانند ازاین مسؤلیت موفقانه بدر آیند که ضرورت های مبرم مردم را درنظر گرفته وسرمایه های خویش رابه کار اندازند که نمونه از این سر

ص٤

طیاره جاسوسی امریکا به شکل پرزه تحویل داده شد

بی بی سی - شریعت : طیاره جاسوسی امریکا به شکل پرزه از خاك چین خارج ساخته شد . این طیاره سه ماه قبل بایك فروند طیاره جت چین درهوا تصادم نموده بود که دراثر آن طیاره چینی کاملاً از بین رفت و طیاره جاسوسی امریکا با یك عوارض ناچیز به زمین نشست . چین حاضر نبود طیاره امریکارا مسترد نماید که این کار سبب بروز اختلافات چین و امریکا شد اخیراًچین طیاره مذکور را به شکل پرزه به جانب امریکا تحویل داد .

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری

تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات :٦۲۸٥۹

پست بکس : (٤٧۱) کابل افغانستان

جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مركز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

اقتصادی ستونزو سره مخامخ شوی دی . له بلی خوا رواني درې کلنې وچکالی هم د افغانانو ژوند لابتر او له نیستې نه بی ګدایی ته کینول . چې دادی اوس هره ورځ بوشمیر واړه ، زاړه او ناروغه انسانان د خوړو او درملو د نشتوالی له امله د خواشینی او نهیلی په مرګ محکوم او دا خوړونکې لړۍ لاهم روانه ده . د هیواد په لر اوبر کې له دغې ستونزې اغیزمن وګړی له خپلو کورو بی ځایه شوی ، کرنه او مالداری یې له منځه تللی او دادی اوس د نړیوالو د بې توجهی له کبله چې وبی نه شو کولای اغیزمنو خلکو ته په خپل کلی کې مرستې ورسوی د کډوالو شمیره مخ په زیاتیدو او په کمپونو کې سل ګونه زره کورنی میشته شوی دی . د نړیوالی میډیا په شهادت د کډوالو بده ورځ زړه بوګنوونکې او د ګرد انسانیت لپاره یو ښکاره شرم او پیغور ګرځیدلی او یقیناً د هغو معصومو ماشومانو وبرجن حالت چې د اساسی اړتیاؤ د نیستی له لاسه د ژمی په سختې یخنی او یا د اوړی په سوځوونکی ګرمی او طفلانه زګیروو په زمزمه کې د مرګ په اوږده خوب ویده کیږی ، د یو سالم ضمیر خاوند ته د حال په ژبه وایی چې ښایی نړیوال د مظلومو اسکیرلو ملتونو له همدغسی ویرجن حالت نه خوند اخلی ! او داځکه چې ستر استعماری زبیښونکی قوتونه چې تل یې د مظلومو انسانانو په ثروت خیټه اچولې د بشری ټولنې له یو دغسې کړیدلی ولس سره پرته له دې چې نورهم بندیزونه پرې ولګوی یو شمیر نوکرې ډلې جنګ جګړو ته وهڅوی او د ثبات استحکام له منځه وړلو هلې ځلې وکړی ، نور هیڅ هم نه کوی . نو په داسې حال کې چې د افغانستان اسلامی امارت د نړۍ د بیلابیلو مغرضو هیوادونو له خوا له پراخې تپل شوی جګړې سره لاس ګریوان وی ، په څه ډول به وکولای شی څنګه چې ښایی له خپلو اړو او بې وزلو خلکو سره مرستې وکړی . په هرصورت اسلامی امارت بیا هم له خپل وس سره سم بې ځایه شوی اړ خلک نه دی هیر کړی . خو څرنګه چې دا اقتصادی بحران په ټول هیواد راخپور دی نو په کار ده چې نړیواله ټولنه او خصوصاً اسلامی دنیا په دې هکله نور د غفلت نه کار وانخلی ، خپل بشری او اسلامی مکلفیت سر ته ورسوی او دهغې انسانی غمیزې مخه ونیسی چې دادی ورځ په ورځ پراختیا مومی .

داسلامی نړۍ طبابت ته لنډه کتنه ۷

پوهاند عبدالحی مومنی

په منځنیو پیړیو کی داسلامی نړۍ نامتو طبیبان:

مخکی یادونه شوی چی دعباسیانو په دوره کی طبابت خپلی لوړی څوکی ته رسیدلی چی نه یواځی عربی ټولنه بلکی منځنی ایشیا ، شمالی افریقا او غربی اروپاهم داسلامی طبابت تراغیزی لاندی راغی چی دادی دهغی زمانی ځینی طبی پوهان په ګوته کولای شو .

علی بن ربن طبری :القفطی ۲۳۱ مخ دده په باره کی لیکی چی دی یهودی و . او کله چی دعباسی خلیفه په خدمت کی شامل شو ، اسلام نی قبول کړ . علی په (۲۳٦هـ / ۸٥۰م) کی خپل مشهور اثر « فردوس الحکمه کی » چی له طب او طبیعیاتو بحث کوی لیکلی دی دغه یوه دمحمد بن زکریای رازی استاد دی . « فردوس الحکمه » ٥٥۰ مخونه لری چی په اوه نوع ، ۳۰ مقالی او ۳٦۰ فصلونو باندی تقسیم شویدی . مولف دهیپوکرات ، ارسطو ، جالینوس ، یوحنابن ماسو یه او حنین بن اسحق ته اشاره کوی او دهغو آثار دخپل کتاب ماخذ ګڼی یدی کتاب کی دهندی طبابت او همدارنګه دجراحی او اناتومی په برخه کی لنډ معلومات ورکړل شویدی مګر اقلیم ، غذائی رژیم ، درمل او سمیات په مفصل ډول تشریح شویدی . ابو علی ابن مسکویه :دی فیلسوف او مورخ و چی په ۹٦۲م کی مړ شوی دی . دده آثار دفلسفی ، طب ،کیمیا او اخلاقو په باره ګې دی . **ابو موسی جابر بن حیان** :دی د خراسان دی چی دکیمیا ستر عالم او دځوسوو کتابونو او رسالو لیکونکی دی . دده الخالص او الخواص کتابونه ډیر مشهور دی . **ابو الخیر بن خمار :فیلسوف** ، طبیب او سترمترجم و . دابن سینا هم عصر و دی په غزنی کی او سیده :**علی بن العباس** :دده کتاب « الملکی » نومیږی . القفطی (۲۳۲ مخ) ددی کتاب په باره کی لیکی : « . . . دا یو ډیر عالی ، برجسته او مفید اثردی چی دطب علم او عمل یکی راټول شوی او په ښه توګه تنظیم شویدی . دغه اثر ښه شهرت او خاص محبوبیت پیدا کړ او دابن سینا تر قانون پوری ټولو ورته مراجعه کوله او « قانون » ددی موجب شوی چی الملکی له یاده ووځی الملکی په عملی برخه کی ډیر قوی دی او قانون له نظری لحاظه شهرت لری . دالملکی عربی متن تقریباً څلورسوه زره لغتونه لری چی دشلو مقالو او هره مقاله له څو فصلونو تشکیل شویده لس مقالی ئی نظری طب دی او لس نوری یی عملی طب پوری اړه لری . دویمه او دریمه مقاله ئی اناتومی تشکیلوی او نولسمه مقاله چی یولس فصلونه لری کاملاً جراحی پوری اړه لری » . (٤٥٤ - ٥۱٦ مخونه -دریم ټوک - دقاهری چاپ) . **امام فخرالدین رازی :ابو عبدالله محمد فخرالدین** په ۱۱٤۹م (دروژی دمیاشتی ۲٥ کال ٥٤٤ هـ) په هرات کی زیږیدلی دی . دده دطب په باره کی د « طب مسایل ،د «الجامع -الکبیر فی الطب » کتاب چی سرته ندی رسیدلی او دریم کتاب ئی چی هم سرته ندی رسیدلی د « التشریح من الراس الی الحلق » په نامه یادیږی او یل کتاب ئی دنبض په نامه یادیږی . دده شاګردان او علاقمندان وائی چی دکلام په علم کی یی پر ابن سینا برتری درلوده ده له ابن سینا سره ډیره علاقه درلوده او دهغه هم عصرو دی له ډیری سرګردانی وروسته دقطب الدین علاوالدین تکش د خوارزم شاهیانو دربار ته لاړ او هلته دده ډیر قدر وشو او په هرات کی ډیرلوی کور ورته و بخښل شو . چی هلته وعظ او دلیکلو کار وکړی ده دکیمیا په علم کی هم کار کړیدی او په (۱۲٥۹م) کال په هرات کی مړ شویدی . ابوریحان البیرونی ابوریحان محمد بن احمد بیرونی خوارزمی درياضی ډیر لوی عالم په ۳٦۲ کال کی زیږیدلی او په ٤٤۰ کال په غزنی کی مړشو یدی .

پاتې لرې

مسوولیت سقوط (آریانا افغان هوائي شرکت)...

صادقانه حفظ بدارد و علی الوصف آمد و رفت رژیم های مختلف سیاسی ، نظامی درکشور هیچگونه میل وگرایش به جهت آنان پیدا نکرد .

تعزیرات ۱٤ نوامبر ۱۹۹۹ ملل متحد نخستین لطمه بود که در حیات اجتماعی و پرستیژ بین المللی این شرکت ناجوانمردانه وارد شد ؛ اما اینکه این تعزیرات ناروا طی ۲۰ ماه اخیر چه مقدار توانسته اثرات سوء دربخش های مختلف آریانا از خود بجا بگذارد نخست از همه محترم محمد ظاهر «الکوزی» آمر کدرو پرسونل آریانا نیش این تعزیرات را بالای کارمندان ملکی این شرکت اینگونه تلخ بیان نمود :

در اولین قدم تعزیرات آریانا ٤۰۰ تن از کارمندان خویش را طی ۲۰ ماه اخیر از دست داد . فعلاً در تشکیل آریانا صرف ۱۰۰۰ نفر باقی مانده است که ٤۰۰ نفر آنرا عمله تخنیکی و عملیاتی تشکیل میدهد .

محترم عبدالبصیر متصدی امور پلان شرکت آریانا در زمینه میگوید :

تعزیرات سبب شد تا پروسه خدمات پستی درکشور که قبلاً از سلسله طیارات آریانا انجام می یافت به یکبارگی ضربه ببیند و مراسلات پستی تقریباً ۳.۷ ملیونه افغانیکه امروز خارج از کشور قسم مهاجر بسر میبرند به یك سكتگی قابل ملاحظه روبرو شود .

مواد غذایی و ادویه باکیفیت که قبلاً از کمپنی های هندی وکشورهای خلیج توسط طیارات آریانا به افغانستان انتقال میگردید حالا دیگر قطع می باشد .

کرسی آریانا در سازمان های بین المللی هواپیمائی چون IATA (سازمان بین المللی ایرلاین ها) و ECOW (سازمان بین المللی هوانوردی ملکی) به حالت تعلیق در آمد .

نمایندگی های آریانا در خارج از کشور مسدود گردید .

و د رکل آریانا از ۱٤ نوامبر ۱۹۹۹ تا امروز که تقریباً بیست ماه از آن میگذرد طی همین مدت نسبت عدم انتقال مسافر ومال تجاره معادل تقریباً ۲،٥ ملیون دالر امریکایی خساره مند گردیده است .شایان ذکر است که از اثر این تعزیرات حسابات بانکی آریانانیز با دول خارج تحت بلاك قرار گرفت ومشکلات در خورملاحظه برای آریانا ایجاد نمود .

محترم قاری رحمت الله «رحمت» معاون مالی و حسابی شرکت آریانا در زمینه میگوید : از اثر تعزیرات تماس بانکی آریانا با ۱۲ بانك خارجی قطع شد و بیشتر از ۲ ملیون دالر مقروضات آریانا از درك حسابات بانکی بالای همین ۱۲ بانك درخارج از کشور بطور بدیهی یا قرضه تا الحال باقی مانده است ؛ هکذا این شرکت قبل از وضع تعزیرات در قسمت خریداری یك فروند طیاره جدید مسافر بری (جمبوجیت) که گنجایش ٤۰۰ مسافر را داشت دربدل ٦ ملیون دالر باجانب کشور کویت اقدام نمود که انتقال جمبوجیت به افغانستان از اثر وضع تعزیرات صورت نگرفت و این معامله سر انجام فسخ گردید .از آنجائیکه تعزیرات دیگر برای آریانا طاقت فرسا افتیده ؛ لیکن از جانب دیگر این تعزیرات بازار برخی از شرکت های هواپیمائی منطقه را دور از تصور گرم ساخته وآنها با استفاده از این چانس روزانه ده ها - صدها مسافر افغان و غیر افغان را به اروپا و آسیا و از آنجا دوباره به منطقه انتقال میدهند . در صورتیکه تعزیرات کنونی بالای آریانا وضع نمیبود این لقمه چرب را هرگز کسی از دهن آریانا قپیده نمیتوانست .

نقطه ، دیگری که درین زمینه قابل عطف و توجه است سقوط خود کفایی آریانا می باشد . باتأسف قسمیکه ملاحظه میشود آریانا از اثر وضع تعزیرات فعلی روز تاروز خود کفایی خویش را از دست میدهد ؛ چرا که عایدات این شرکت هرگز نمیتواند جوابگوی مصارفات کنونی آریانا باشد ، از همین جهت جنتری دیواری سال ۱٤۲۲ قمری آریانا از چاپ ماند .

محترم فدامحمد «فدوی» یکتن از کارشناسان مستعد هوا نوردی در افغانستان پس منظر این تعزیرات را درقبال آریانا اینگونه اسفبار توصیف میدارد :

تداوم تعزیرات سبب خواهد شد تا آریانا عضویت خود را در انجمن ترانسپورت هوائی بین المللی (IATA) طی ۱-۲ سال آتی از دست بد هد ؛ هکذا نخواهد توانست عضویت خویش را درموسسه مخابراتی بین المللی سیتا (SITA) حفظ نماید .

نسبت عدم دستیابی به پرزه جات طیارات و اجرای ترمیمات وسرویس های تخنیکی قابلیت پرواز طیارات خویش را از دست خواهد داد .

عمله پروازی وسایر کارمندان فنی وتخنیکی آریانا که محصول ده ها سال تجربه و ملیون ها دالر مصرف و ترینگ می باشند به تدریج مهارت مسلکی خود را از دست داده و به یك فرد عادی تبدیل خواهند شد و یاهم کشور را ترك خواهند گفت .

باگروند شدن طیارات از نگاه نداشتن قابلیت پرواز واز دست رفتن لایسنس و مهارت کارکنان ایرلاین مسلماً شرکت به سقوط مواجه خواهد شد وطیارات ، عمله پرواز ، انجنیران و سایر کارمندان فنی ومسلکی آریانا که همه سرمایه ملی افغانستان می باشند قربانی خواسته های سیاسی و تعزیرات ملل متحد خواهد شد که در آنصورت مسئولیت این امر متوجه آنانی خواهد بود که این وضع را بالای آریانا تحمیل نموده اند .

ضمناً ایجاد مجدد آریانا یا ایجاد یك ایرلاین دیگر درآن وقت مستلزم مصارف گزاف و وقت کافی خواهد بود تا بتوان ایرلاین جدید را به سویه شرکت هوایی دیروز آریانا ویاحتی امروز آریانا به وجود آورد .محترم «فدوی» یگانه راه بیرون رفت از این بحران را رفع تعزیرات کنونی از جانب ملل متحد خوانده افزود : راه دیگری که امروز بتواند آریانا را از سقوط حتمی نجات بدهد تدابیر موثری خواهد بود که از طرف مقامات عالیه امارت اسلامی افغانستان بشکل مدبرانه اتخاذ شود ؛ در غیر آن درصورت تداوم این تعزیرات امر سقوط شرکت هوا پیمایی آریانا از احتمال دورنمی باشد

مهربان

په اسلام کی داستخباراتو ارزښت ۴

داستخباراتو دلوی ریاست له خوا

کله چی رسول الله «ص» په دی و پوهیدی چی دقریشو لښکر دوی ته په نږدی واټن کی پروت دی نو لازمه ګڼله چی له استخباراتی چینل څخه نوره هم ګټه واخلی همااغه وو چی دحضرت علی «رض» زبیر د عوام «رض» زوی او سعد د ابی وقاص «رض» زوی په شمول یی یو بل ټولګی وټاکه ترڅو ددی لښکر په اړه ډیر او ژور معلومات راټول کړی . دی ټولګی دوه قریش کوچنیان چی (دبدر دجګړې دکتاب دلیکوال) محمد احمد په وینا دقریشو دلښکر کسان وو او په او بو پسی راغلی وو هم ونیول او درسول الله «ص» حضور ته یی بوتلل رسول الله «ص» له هغوی سره له نرمی او مهربانی کار واخیست او په دلاسایی تری دقریشو دکاروان په اړه معلومات وغوښتل دهغوی له وینا وپوهید چی قریش دیوی غونډی په لمن کی دمسلمانانو له لښکره لیری پراته دی ، دی کوچنیانو وویل چی دشمیر په اړه یی دقیق معلومات نه لری رسول الله «ص» تری وپوښتل چی هرورځ څواوښان حلالوی هغوی ورته ځواب ورکړ چی کله نه او ښان ځینې ورځ لس اوښان حلالوی رسول الله «ص» ددوی له وینا پوه شو چی دکفارو دلښکر شمیر ای دقریشو مشران کوم رسول الله «ص» دوه تنه نورو مسلمانانو ته دنده وسپارله چی ولاړشی او نور معلومات راوړی هغوی چی کله دبدر او بو ته ورسیدل نو له یوی وینځی یی واوریدل چی بلی وینځی ته وایی (زما پورراکړه) هغې پوروړی وینځی ورته وویل (له انتظار وکړه سبا یا بله ورځ کاروان رواز نیږی دهغوی خدمت کوم او ستا پور به درکړم) هغه دوه تنه راغلل او جریان یی رسول الله «ص» ته واوراوه دحنین په غزاکی رسول الله «ص» عبدالله دابو حدر «رض» زوی ته دنده ورکړه چی د ثقیف او هوازن دقبیلو دنیت په اړه راپور راوړی کله چی هغه له دخپلی استخباراتی دندی راوګرځید نو مسلمانانو ته یی خبر ورکړ چی د هوازن »او ثقیف قبیلو د «وادی او طاس » په سیمه کی خپلی لښکری راټولی کړیدی او په مسلمانانو دیرغل په تکل کی دی رسول الله «ص» هم دهمدی اطلاع پراساس مجاهدینو ته سیمې وسپارلی خو ځینو مجاهدینو درسول الله «ص» له وینا او قوماندی سره سم عمل ونکړ ای شوچی پایله یی لومړی چندان خوندوره نه وه . له نظامی برخی پرته رسول الله «ص» په ملکی برخه کی هم استخبارات درلودل له شاوخوا څخه به یی ځان باخبره ساته په ټول ښار به یی نظر وو ، نظم او دسپلین به یی خوښاوه په خپل درایت او کفایت به یی په مدینه او ترخپل کنترول لاندی سیموکی بشپړامنیت راوستی وو حضرت امام حسن له هد ابن ابی هاله روایت کوی چی رسول الله «ص» به تل له ټولنی ځان با خبره ساته ، دپیښو پوښتنه به یی کوله په هغه څه به یی ځان خبراوه چی دخلکو ترمنځ به پیښیدل خپلو صحابه وته یی داسرارو د ساتنی درس ورکړی وو هغوی به هیچا ته هم درسول الله «ص» اسرار او رازونه نه رسوا کول ان چی له خپل پلار او مور څخه به یی دهغه «ص» راز پټ ساته دبیلګی په ډول دحضرت انس ابن مالک «رض» او حضرت عایشی «رض» دادوه روایته وګوری حضرت انس ابن مالک «رض» روایت کوی : ماله کوچنیانو سره لوبی کولی چی رسول الله «ص» موځنګ ته راغی په موږ یی سلام وواوه بیا یی زه یو کاریسی ولیږلم تردې چې کورته ناوخته راغلم ، مورمی کورته زما ناوخته ورتللو لامل وپوښت ، ما ورته وویل چی زه رسول الله «ص» یو کار پسی لیږلی وم هغې وپوښتل کوم کار پسی ؟ ما ورته وویل هغه یو پټ راز دی چی هیچاته یی نه رسوا کوم ، راته وویل چی دیر ښه درسول الله «ص» اسرار هیچاته مه رسوا کوه . حضرت ابوبکر صدیق «رض» درسول اکرم «ص» ډیر نږدی دوست او ډیر نږدی خپل یار «خسر » او جلیل القدر باوری صحابی دی او دابو بکر صدیق «رض» لور عایشه «رض» رسول الله «ص» ته ترټولو ګرانه میرمن وه خو ددی ټولو فضایلو او خپلوی سربیره به حضرت عاشی «رض » د رسول الله «ص» پټه خبره ابوبکر صدیق «رض » ته نه کوله . کله چی رسول الله «ص» د مکی دفتحی په هوډ ووت نو حضرت عایشی «رض» ته یی وفرمایل .ای عایشی موږ جګړې ته چمتو یو خوراز پټ وساته بیایی داسی دوعاوکړه (ای خدایه دقریشو جاسوسان او مخبرین لری پرو چی ناڅاپه حمله پری وکړو) حضرت ابو بکر صدیق «رض» په داسی حال کی دعایشی «رض » کورته ورغی چی هغې رسول الله «ص» ته دسفر اړتیا وی برابر ولی له حضرت عایشی څخه یی وپوښتل (ای عایشی ایا رسول الله «ص» غواړی چی غزاته ولاړشی ؟) هغې ځواب ورکړ (نه پوهیږم ښایی هغه «ص» بنی سلیم » یا » بنی ثقیف یاد هوازن دقبیلې په لور ولاړشی) په همدی وخت کی حضرت رسول اکرم «ص» راننوت حضرت ابوبکر صدیق «رض » ورته وویل ایا دسفراراده لری ؟ رسول الله «ص» ورته وفرمایل هو! حضرت ابو بکر تری وپوښتل کومې خواته؟ «ص» ځواب ورکړ : دقریشو په لور نیت لرم خو ای ابوبکره «رض » (راز چاته مه وایه) .داچوت حقیقت دی چی په استخباراتو کی داسرارو ساتل دملا تیر حیثیت لری او خپله استطلاع یا استخبارات هم ډیر ګټور او ارزښتمند کاردی اوکه له پاک نیت اخلاص او دخدای «ج» رضا لپاره ترسره شی نو ډیره سپیڅلی دنده او سترعبادت دی . خو دی فکتورته هم پام په کار دی چی له بده مرغه له ډیر وخته راهیسی داستخباراتو دستګاه دحاکم رژیم په خدمت کی وی ، په تیرو رژیمو نوکی یی ډیر مسلمانان درد ولی ، بی ځایه زورولی ، او دولس له کرکی او نفرت سره مخ شوی دی . نواوسنی مسؤلین یی باید هاند او هڅه وکړی چی دنفرت دافضا ورکه ،دخلکو اعتماد او باور ترلاسه او استخبارات دخلکو دخدمت اداره اویوه اسلامی استخباراتی شبکه جوړه کړی

جهان ورزش

تحت نظر : استاد آرین خیبر

کونگ فو

مسابقات انتخاباتی تیم نوجوانان کونگ فو به اساس پلان و پروگرام مرتبه کمیته ملی المپیک وفدراسیون کونگ فوی کشور جهت گزینش بهترین کونگ فو کاران برای تیم نوجوانان کونگ فو تحت سنین ۱٦ سال که چندی قبل آغاز گردیده بود با نتایج آتی خاتمه یافت :

۱- کلپ فرهنگستان تن ورو ان وزارت امور داخله با اخذ پنجا ه ویک امتیاز حایز مقام اول در سکوی قهرمانی .

۲- کلپ استخبارات با اخذ ۲۷ امتیاز حایز مقام دوم .

۳- کلپ توحید با اخذ ۲٦ امتیاز حائز مقام سوم گردید .قابل یاد آوریست که درین مسابقات از تمام کلپ های آزاد و موسسات رسمی کونگ فو جمعاً ۱٦۰ تن ورزشکار شرکت داشتند .

تولید قدرت انفجاری

یک تکنیک کامل جزآنکه باسرعت وقدرت اجرا شود درغیرآن فاقد ارزش است

نقد و پژوهش استاد آرین خیبر رئیس انجمن تکواندوی جیدوکران افغانستان

اولین دغدغه یك رزمی کار ، سرعت است . برخی برین باور اند که تکنیك بسیار مهمتر است . این نکته در صورتی ممکن است درست باشد که شما صرف برای سلامت وآموزش هنر رزمی را پیش برید . اما اگر احتمالأروزی با یك مهاجم روبرو شوید در آن صورت اگر همه تکنیك های دنیا با آهسته گی انجام شود ، فاقد ارزش خواهد بود . اگر نتوانید بر مهاجم پیروز شوید ماهر بودن شما اهمیتی نخواهد داشت . اما اگر سریع تر از حریفتان باشید و در هر وقت به خوبی از حملات حریف بر آئید ، میتوانید برخی از معایب تکنیك را جبران کنید .

ماهیچه ها ، اصلی ترین قسمت بدن که شما را به سمت حریف میکشاهند ، یا از او دور میکند از پنج نوع مختلف (تار) تشکیل شده اند که عبارت تد از دو رشته اصلی وچند نوع فرعی که قادر هستند در صورت لزوم به یکی از انواع اصلی تبدیل شوند . با وجود این قسمت عمده ماهیچه از برخی ترکیبات این دونوع اصلی تشکیل شده است که برای سهولت فقط این دونوع رشته را شرح میدهیم که عبارت اند از رشته های تند انقباض (FT) و رشته های کند انقباض (ST) .

اگر مبارزه طول بکشد به هیچ وجه زیبا نیست

این دو نوع رشته هیچ وجه مشترك ندارند . برای آشنایی بیشتر این دونوع رشته مرغ را درنظر بگیرید . مرغها بجز فاصله بی کوتاه پرداز کروه نمی توانند . آنها راه میروند در نتیجه پاها وران آنها کند انقباض و ماهیچه های سینه شان تیز انقباض است انجام تعداد زیادی از تمرینهای استقمتی به طور خاص پرورش رشته های کند انقباض می شوند مثل ران مرغ . بنا برین صدهای حرکت شنا در حقیقت منجر به کند سازی ضربه مشت شمامیشودو زنه‌برداری‌بااستفاده‌از مقاومت‌بالابه‌کندی‌سرعتتان‌خواهد افزود .

اخیراً مقاله، در مورد بهبود بخشیدن لگدهای پرشی را مطالعه کردم نوسینده دوتمرین را توصیه مینماید دوش یك الی دوکیلو متر روزانه بروی تپه یا بلندی و در عین دویدن پرش های زانو به سینه و تکرار (و بال وانگ سانگ ها) با ترکیب لگد های مختلف . این حرکات تا ثیری صد درصد در بهبود لگد های پرشی و سرعت دارند . همه ما به کلپ های ورزشی کاملاً مجهز دسترسی نداریم اما لوازم بسیار ساده و ارزان در خانه و بیرون میتواند قدرت انفجاری وسرعتی مارا یاری دهد .

شاید موثر ترین فن برای پرورش قدرت وسرعت انفجاری تمرینات پیلومتریك باشد که به وسایل کمی نیاز دارد .

که عبارتند از ریسمان ، چوکی و انواع موانع در سر راه دوش چه در کلپ و چه در بیرون باشد .

بررسی و بازدید از مسابقات

محترم الحاج مولوی قلم الدین مستهمند رئیس تربیت بدنی وسپورت در حالیکه معاونین کمیته ملی المپیك و محترم قاری فهیم عضو دعوت و ارشاد کمیته ملی المپیك با وی همراه بودند جریان مسابقات انتخاباتی کونگ فو و پهلوانی را از نزدیك بر رسی نمودند .

خبرنگار ما می افزاید که در جریان این بازدید محترم مولوی قلم الدین تمام ورزشکاران را متوجه رسالت دینی وایمانی شان نموده و کار کرد های شان را مثبت ارزیابی نمودند .

در مقابل ورزشکاران و اعضای هیئت رهبری فدراسیون های متذکره در تطبیق امربالمعروف و نهی از منکرات و رشد و انکشاف هر چه بیشتر رشته های ورزشی شان در چوکات شریعت غرای محمدی آمادگی شان را اعلان داشتند .

قاری فهیم

صدای قهرمان

تکواندو :

خیبر جویا فرزند غلام سخی جویا عضو انجمن تکواندو جیدوکوان افغانستان از مدت ۷ سال بدینسو تمرینات تکواندو را در انجمن متذکره تحت نظر استاد آرین خیبر آغاز نموده تا الحال در تمام مسابقات عادلانه که به اساس نورم های پذیرفته شده فدراسیون جهانی تکواندو اجرا نموده است ودر وزن ٤٦ کیلو گرام حایز مقام اول و درسکوی قهرمانی جادارد .

وی می افزاید تکواندوی جیدوکوان را به عنوان ورزش تاپ رزمی برای خود برگزیده ام در آن زحمت کشیده ام . عرقریزی کرده امو در مسابقات قانونی که در آینده ها دایر شود یك نورم قابل پذیرش است و آن (با خبیری رئیس و هیئت برگزاری از تمام قوانین ، مقررات ، ونورم های پذیرفته شده تکواندو) در غیر آن مسابقه کننده خود را به گودال ناکامی خواهد انداخت چنانچه چنین شد .

خیبر پویل جیدوکوان

استعمال دواي نزاللون غير قانوني نيست

یك دانشمند جرمنی میگوید بر روی آزمایشات مثبت لابراتواری شواهد در ارتباط بین مواد مغذی خوراکه و مواد ممنوعه (نزاللون) که وجود ورزشکاران را تقویه میکند کشف کرده احت . این ماده باعث آن گردیده است که چندین تن از ورزشکاران قهرمان بخاطر استفاده از آن ماده قبل از مسابقات بین المللی المپیك از شرکت در آن باز نگهدارشته شوند اما یك نشریه معتبر ورزشی جرمنی مربوط به پوهنتون (کلن) جمهوریت اتحادی المان میگوید که مواد مغذی ارعا شده به خوراك ورزشکاران که مورد ازمایش قرار گرفتند مورد استعمال غیر قانونی نداتشت . دانشمند مذکور نتیجه تحقیقات خودرارائه کرده میگوید که ورزشکاران باید برای کمیته های بررسی و آزمایش ثابت کنند که ماده ممنوعه (نزاللون) را تصادفاً صرف کرده است نه برای اینکه وجود خود را تقویه کنند در این اواخر عده یی از فوتبالران هالندی و یك گلوله انداز امریکایی بخاطر استفاده از این ماده از شمولیت در مسابقات المپیك جهانی منع شده بودند .

مسابقات پهلوانی نوجوانان خاتمه یافت

مسابقات انتخاباتی پهلوانی برای گزینش بهترین پهلوانان برای تیم نوجوانان پهلوانی تحت سنین چهارده سال طبق پلان و پروگرام مرتبه کمیته ملی المپیك و فدراسیون پهلوانی کشور تحت نظر هیئت با صلاحیت ان کمیته چندی قبل آغاز گردیده بود خاتمه یافت .

استاد لعل محمد سیار رئیس فدراسیون های کمیته ملی المپیك اظهار داشت که مسابقات متذکره طبق قوانین و مقررات جدید فدراسیون بین المللی پهلوانی (فیلا) در یك فضای دوستانه در ستدیوم ورزشی کابل دایر گردید در این مسابقات که به منظور گزینش و انتخاب بهترین ورزشکاران برای تیم نخبه نوجوانان پهلوانی راه اندازی گردیده بود از ۲٦ کلپ آزاد و موسسات رسمی پهلوانی به تعداد یکصد کشتی گیر اشتراك نموده بودند .

کورنۍ ورزشي خبرونه

په بغلان کې ورزشي جشن جوړشو :

دبغلان په ولایت کې د هغه ولایت د زرګونو تنو ورزشکارانو په ګډون ورزشي جشن جوړ شو . په هغې غونډه کې چې له همدې امله څه موده مخکې د پلخمرۍ ښار په ورزشي لوبغالي کې جوړه شوې وه د بغلان والی محترم ملاعبدالجبار عمری ، د امارتي ادارو چارواکو او رئیسانو او دبغلان ولایت په زرګونو خلکو ګډون برخه اخیستې وه په سر کې د بغلان ولایت ورزشي امر محترم استاد محمد آصف امامی د ورزش آمریت د اجرااتو لنډ راپوټ په وړاندې کولو سره ورزشي تیمونه حاضرېنو ته ور وپېژندل ورپسې د تکواندو ، کونګ فو ، کاراتی ، پهلوانی ، فټبال ، والیبال ، بایسکل څغلونې او د بدن د ښکلا په زړه پورې نمایشات ترسره شول . چې د لیدونکو د درنو احساساتو سره جوخت ؤ په پای کې د بغلان والی د بیلابیلو ورزشي برخو دودې او پراختیا په خاطر د ورزشکارانو د هاند او هڅو له امله قدرداني وکړه . په مقابل کې انجنیر محمد افضل د ورزشکارانو په نماینده ګی د ورزش د لازیاتي ودې په خاطر خپل بشپړ تیاری څرګند کــــــړ .

پس از یك سال تمرین درسکوی قهرمانی

شکرالله فرزند حاجی نور احمد در سال ۱۳۷۹ شامل کلپ ورزشی یورش (کونگ فو وابوتین) شده ودر مدت کوتاه تقریباً یکسال در مسابقات انتخاباتی تیم جوانان کونگ فو ۱۳۸۰ حایز مقام اول قهرمانی گردیده است . وی می افزاید مشوق اصلی ام محترم عبدالنصیر «غفاری» بوده که همیشه من را در قسمت رشته ورزشی ام تشویق نموده است . پیام بنده برای دیگر جوانان کشور چنین است (جوانان کشور با علاقمندی خاص که به ورزش روحی آورند نه تنها صحتمندی شان را تضمین مینمایند بلکه در آینده مصدر خدمت به وطن گرانقدر شان نیز خواهند بود)

«استاد معروف رغبت»

په پښتو شعر کې مذهبي څرګونه

د ثبات لیکنه اوڅېړنه

۱۰

رحمان بابا په خپل یو موعظه شعر کې د دین په چارو کې د ریاضت د غوره والي په هکله وايي :

څو تر میانه ورانه نه کړې د تن پوله
وبه نه رسې تر خدایه تر رسوله

رحمان بابا په خپل یو موعظه شعر کې د دین په چارو کې د ریاضت د غوره والی په هکله وایی :

څو تر میانه ورانه نه کړی د تن پوله
وبه نه رسې تر خدایه تر رسوله

په همدی شعر کې مسلمان داسی مخاطب کوی .

خدای و تاته دین دنیا په غوزه کېښوه
تا دنیاکړه په دا دوارو کې قبوله

همداشان په دې شعر کې حرص غندل شوی ، د دیني چارو نه دمشغولیت نه د دینې چارو مشغولتیا د بقا په جهان د فاني جهان برتری ، د نادانانو کار ګڼل شوی او له خالقه مخلوق ته روګرداني لویه ګناه بلل شوی ده .

رحمان بابا د دین په چارو کې ریا او د وه رنګی لویه ګناه بولی لکه چې وایی :

یا دوې په خوله مکه او مدینه
نسکور پروت یې د عورتې په سینه
د اطلسو قبا غواړې نه یې مومې
له ناکامه دې خرقه کړه پشمینه

همدا راز په دې شعر کې د مسلمان سره کینه او جنګ بد عمل شمیرل شوی ، او د نیکو کاری ستاینه شوی ده . رحمان بابا غوره کار په خدای زړه تړنه ګڼي او وایی چې دنیا د اخرت توښه ده .

چې په نور څه پورې زړه تړې بې خدایه
څه پوهېږې چې په ځای کړې که بې ځایه
وړاندې سرای لره توښه تړه رحمانه
څو سفر دې کړی نه دی له دې سرایه

او یا چې وایی :

ښه ده ښه ده دا دنیا
چې توښه ده د عقبی

رحمان بابا پر خدای تکل کول د مسلماني چارې بولی او وایی :

زړه مې ورکړلو خود رای
هرچې شی تکیه په خدای
چې خدای کا هغه به وشی
نه بل خدای لرم نه ځای

صوفی عبدالرحمان د مذهبی فریضی حیث په نعمتونو شکران د فریضی ادا بولی لکه چې وایی :

هسې رنګ نعمت را کړی خدای وما دی
چې هیڅ څیز بهائی نشته بې بها دی
یو خو دا چې یې په شکل د ادم کړم
دویم داچې محمد مې رهنما دی

همدا راز په لاسونو ، پښو ، غوږونو او سترګو ، خولې او ژبې شکر وباسی او وایی چې اسمان ، ځمکه لمر ، سپوږمی ، ستوری او داسی جهان ، شپه او ورځ خدای د ده دخدمت لپاره پیدا کړی دی .

ملنګ عبدالرحمان د دین دچارو د ارجحیت او صفت په باب وایی :

په دنیا کې چې څه کار دی خو د دین دی
د دې کار په کننده ؤ افرین دی

همداشان تقوی او د پنداری لویه نیکمرغی بولی او قناعت ستایی او دکمینی مقام ته داسې ګوته نیسی :

پاتی لري

اعلانات

محترم حاجي لالک پدي نږدي وختوکي په پام لرې دخپلو هیوادوالو دسوکالي په خاطر د تېلو تجارت پیل کړي وطنو ال دي خبر وي

***

وزارت مخابرات امارت اسلامی افغانستان به یك پایه دستگاه (H.C.V) ستلایت ضرورت دارد .

اشخاص و موسسات داخلی وخارجی که آفر داده میتوانند افرهای خویشرا بمدیریت تهیه وتدارکات خارجی وزارت مخابرات و یا به پست بکس ۱۰۷۲ ارسال بدارند و خود شان بتاریخ ۹-٦-۱٤۲۲ مراجعه نمایند مشخصات تخنیکی را ملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد

***

ریاست عمومی کار و امور اجتماعی به یك نفر معتمد جنسی ضرورت دارد .

شایقین کار بمدیریت خدمات ریاست کار وامور اجتماعی مراجعه نمایند تضمین مطابق مقررات اخذخواهد شد .

***

ریاست دیوان جزاء مرافعه کابل به اطلاع حاجی عبدالباقی فرزند رحم ـ دل میرساند تا جهت دعوی حقوقی اش با حاجی محمد ظاهر فرزند جان ـ محمد از تاریخ ۱۲-٤-۱٤۲۲ تاده روز بریاست دیوان جزاء مرافعه کابل حاضر شود در غیر آن درحصه فیصله صورت خواهد گرفت و آنگاه حق شکایت را نخواهند داشت .

***

ریاست بانك انکشاف زراعتی مغازه نمبر ۱-۲-۳-٤-٦ عقب وترین دوباب اتاق جوار شرقی تعمیر چهارده منزله یك باب اطاق ورکشاپ واقع چمن و هنگر خوشحال مینه ملکیت خویشرا طور قرارداد بکرایه میدهد .

اشخاص و موسساتیکه خواهش عقد قرارداد انرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات ریاست بانك انکشاف زراعتی واقع منزل ششم تعمیر ١٤ منزله بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۲-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

وزارت مالیه یك مقدار تیل دیزل و پطرول مورد ضرورت خوشرا فی لیتر بیست و دو هزار افغانی و فی لیتر پطرول بیست وهفت هزار افغانی از بازار نرخ گرفته است .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت تهیه و تدارکات وزارت مالیه بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۲-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند دوفیصد تضمین اخذ میگردد . .

***

اولیاخان فرزند سالو خان ، مبابسته خان فرزند حاجی احمد و ایمل زمان فرزند زر دین خان سنگ مرمر ولسوالی اچین ولایت ننگرهار فی تن بلاك ٤٤ . ۱۲ دالر امریکایی قرارداد مینمایند .

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بریاست تصدی استخراج معادن بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۲-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد

***

تصدی مرمرو ر خام به پنج قلم سامان فابریکه حجاری خویش از قبیل کرند ساده دوصد دانه ، دندانه های پل ۱۲۰۰ ملی دوصد شصت دانه ، دندانه پل الماس ۵۰۰ ملی هفتادودو دانه ، لیم نصب دندانه ۳۰ ملی پودر مایع چهارصد گرام ضرورت دارد .

اشخاص و موسسات داخلی وخارجی که خواهش رسانیدن آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بریاست مرمروخام واقع پلچرخی بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۲-٤-۱٤۲۲ تا دو ماه مراجعه نمایند .

***

ریاست عمومی شرکت افسوتر یك مقد ار اهن باب پرزه جات داغمه مختلف النوع فرم ها و تایرهای داغمه را لیلام مینماید .

اشخاص وموسساتیکه خواهش خریداری آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا به مرکز تخنیکی نمبر ۲ افسوتر واقع پارك های صنعتی پلچرخی بسپارند و خود شان به تاریخ ۱٥-٤-۱٤۲۲ الـــــی ۱۷-٤-۱٤۲۲ مراجعه نمایند .

نامه واداره

خنده قهقه از دیوانه ها نبوده از داکتران بود

به ادره، محترم روزنامه وزین شریعت ارگان مرکزی نشراتی امارت اسلامی افغانستان!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته :

وبعد اینکه مطبوعات از خود ما وفریاد مارا به نشر میرساند لطفاً یك چشم دید خودم را به نشر بسپارید .

البته سوگند میخورم که دروغ نبوده و نیست وخدا کند که توجه مسئولین مربوطرا به آن جلب نمائید .

(ادره که من درآن مقرر هستم سه قطعه استعلام برایم داد تاجواب آنرابیاورم که البته اصول ومقررات تقرری بوده به پولی کلینیك مرکزی به بخش (T.B) مراجعه نمودم بالا وپائین گشتم متاسفانه هیچ داکتر و یا مسئول انجارا که از ایشان پرسان وسوال نمایم به چشم نخورد .

بالاخره به د روازه باز امدم چند نفر مستخدمین استاده بودن پرسان کردم که داکتر ها شعبه، مربوط (T.B) کجا میباشند گفتن درشعبه مربوط شان گفتم آنجا نبودند یکی شان رفت شعبه، را دید بازآمد گفت نیست دیگری واپس در جواب گفت برو برادر برایش مهر بکن استعلام من را گرفته وخودم هم همرایش رفتم که ببینم چه میکند . مستخدم متذکره تاپه را گرفته به جای سوال **(T.B)** مهر کرد که **(T.B)** ندارد وباز هم از آنجا بر آمدم شعبه عقلی وعصبی رفتم در آنجا که داخل شدم خنده، قهقه شور ماشور را شنیدم خیال بردم که دیوانها جنگ وجدال دارند بسیار ترسان دروازه یکی از اطاق ها را که صدا میامد خلاص کردم دیدم که چندین داکتر که چپن های سفید درتن دارند مصروف سترنج میباشند خنده قهقه، از دیوانه ها نبوده از داکتران بود .

این بود چشم دید بنده .

آیا این اشخاص که مردم رنج دیده وزحمت کشیده وطن ما به آنها نیازمبرم دارند با چنین بی تفاوتی وظایف خطیر را که مردم وملت باشهامت افغانستان چشم به راه شان است باچنین روش های ناروا به پیش میبرند .

خدا کند که وزارت صحت عامه و مسئولین مربوط در این مورد توجه عمیق نموده چرا که یگانه مرجع مردم رنج دیده ما همین اشخاص وهمین وزارت است .　　والسلام　-قاسمی

اسمعیل خان په ...

مقصد غور ولایت ته رسیدلی دی او غوښتل یې چې ددغه ولایت د خلکو آرام او ډاډمن ژوند گډوډ کړي چې دخلکو له عمومي پاڅون سره مخامخ شو او دتیښتې لاره یې غوره ویلله .

داکتر عبدالله له ...

پرون کتلی دی . دی په نن د روسیې دبهرنیو چارو له وزیر ایگور ایوانوف سره هم وگوري .

دافغانانو پر خلاف ..

افغانستان کې پرانستل شي .

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ محترم متوکل د هغه مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کې چې پرون د بهرنیو چارو وزارت د ستور په ماڼۍ کې جوړ شوی ؤ د افغانستان پر خلاف د ملگرو ملتو د سازمان د امنیت شورا د ظالمانه بندیزونو د دوام او د وچکالۍ له پلوه د خلکو د ستونزو او مشکلاتو او دنورو موادو په باب د کورنیو او بهرنیو ژورنالستانو پوښتنو ته ځواب ووایه او زیاته یې کړه : د وچکالۍ ستونزې او مشکلات یوه خداوندي مسأله ده چې موږ د عاکوو چې له منځه لاړه شي په افغانستان باندې د روسانو د یرغل په دوران کې د افغانستان د خلکو د ستونزو او مشکلاتو اندازه ډېره زیاته وه چې

دغه ستونزې او مشکلات دخلکو د هڅو او هاند په نتیجه کې له منځه لاړل او موږ هیله لرو چې دغه ستونزې او مشکلات هم د افغانستان د خلکو په هلو ځلو سره له منځه لاړ شي .

د افغانستان د خلکو پرخلاف د ملگرو ملتو د سازمان د امنیت شورا د بندیزونو دوام زموږ دهیواد دخلکو پرخلاف ددغې ظالمانه پریکړې دوام دی .

محترم متوکل د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل کــه چیرې له اسلامي امارت سره په هیواد کې د یو مسئول نظام په توگه د توپیر او د زور زیاتۍ لاره یوې خواته پرېښودل شي د ستونزو او مشکلاتو دحل کولو ډېره ښه لاره به تفاهم وي .

محترم متوکل د اسامه بن لادن په باب دځینو هیوادونو د تورونو په باب وویل هیڅوک اجازه نلري چې د افغانستان له خاورې نه د بل هیواد پرخلاف استفاده وکړي هغه څه چې په موږ پورې اړه پیدا کوي زموږ دهیواد کورنی امنیت دی موږ دخپل هیواد د کورني امنیت د تامینولو مسئولیت په غاړه لرو .

له بده مرغه هره پیښه چې د نړۍ په کوم څنډه کې کیږي په یو ډول نه یو ډول زموږ په هیواد پورې اړوند بلل کیږي .

محترم مولوي وکیل احمد متوکل په هیوا کې د میشتو هندوانو دمسألې په اړوند وویل د هیواد د هندوانو زیاتره اتباع سکان دي چې

فارقه نښې نښانې لري د هیواد یو کم شمیر اتباع هندوان دي دهغوی مسأله تر اوسه پورې ترخبرو لاندې ده .

موږ به داسې لاره غوره کړو چې د هغوی دځوروني او تکلیف سبب نشي د مطبوعاتي کنفرانس په پای کې محترم مولوي وکیل احمد متوکل د افغانستان د خلکو د بشري غوښتنو په اړوند د ملگرو ملتو د سازمان د کمزورتیاؤ په باب خبرې وکړې او وې ویل :

موږ په وار وار د ملگرو ملتو له سازمان څخه د افغانستان خلکو ته د بشري خدمتونو د ترسره کولو په خاطر دالوتکو د ترمیم لوا و دهغو بند بانو د لیږدونې په خاطر چې په بهر کې په دردوونکې حالت کې شپې سبا کوي د اریانا افغان هوایي شرکت د الوتکو د بیا الوتنو غوښتنه کړیده . چې تر اوسه پورې مو مثبت ځواب ندی ترلاسه کړی .

دمخدره موادو د کنټرول په باب پراخ تبلیغات کیږي خو اوس چې په ټول هیواد کې د کوکنارو کرکیله په بشپړه توگه بنده شویده زموږ د هیواد کروند گرو او بزگرانو سره هیڅ راز مرسته نده شوی .

محترم متوکل په افغانستان کې د اسلامي هیوادونو د کنفرانس د سازمان د دفتر پرانستل د افغانستان خلکو ته یو ښه خبر وباله او وې ویل : دغه پریکړه د اسلامي هیوادونو د کنفرانس د سازمان دغړو هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو په وروستي غونډه کې شویده او په نږدې راتلونکې کې به په افغانستان کې ددغه سازمان د نمایندگۍ دفتر پرانستل شي .

محترم متوکل زیاته کړه موږ له افغاني مهاجرینو سره د پاکستان د پولیسو د نامناسب چال چلند او سلوک په باب د پاکستان د اسلامي جمهوریت له مقاماتو سره یو ل تماسونه نیولي دي دغه حرکات د افغانستان د خلکو ستونزې او مشکلات نه حل کوي او باید ددغې مسألې لپاره قانوني لارې چارې ولټول شي .

په نږدې راتلونکې کې به د افغانستان د اسلامي امارت دشهیدانو او مهاجرینو د چارو وزارت معین د ایران او پاکستان هیوادونو ته سفر وکړي اود مهاجرینو په چارو کې د ملگرو ملتو د سازمان د عالي کمشنرۍ له استازو سره به خبرې اترې وکړي .

په ایران کې ځینې ناکلي ټولنې د خپلو گوډاگیو افرادو په را استولو سره د هیواد په لویدیځ کې په ورانکارۍ، چریکي بریدونو او لوټماری لاس پورې کوي او هیله ده چې ددغه شان عمل د تر سره کولو هیله د گاونډي هیواد له لارې موجوده نده . موږ هیله لرو چې د ایران هیواد مشران دغې مسألې ته متوجه شي .

ملا عبدالسلام ...

نفر پولیس که درقتل او دست داشتند با وزیر داخله و وزارت خارجه پاکستان صحبت نمودیم وآنها پذیرفته اند که دوتن محاکمه خواهند شد ملا ضعیف گفت : ما دراین رابطه بی تفاوت نه بودیم و فعلاً دو نفر پولیس در توقیف به سرمی برند .

د ۵۰۰ فامیلي ...

د دې ښوونځي د اوبو سیستم چې له شپږو کلو را پدیخوا د خپل منځي جگړو په ترځ کې بېخي له منځه تللی ؤ په امریکاکې د مهاجرو افغانانو یا (دجگړه ځپلو ماشومانو) دموسسې لخوا بیا جوړ او گټې اخیستلو ته چمتو شو .

په افتتاحیه غونډه کې لومړی د دې ښوونځي د نهم ټولگي زده کوونکي قاري سمیع الله د قرانکریم ځو مبارک آیتونه ولوست ور پسې د ښوونځي مدیر مولوي عبادالله «امیني » او په کابل کې د جگړه ځپلو ماشومانو موسسې رئیس عبدالرؤف « عزیزي » د خپلو خبرو په ترځ کې اوبه د ټولنې بیولوی ضرورت او په هیواد کې روانې ستونزې د اوبو د کموالي سبب وبللې . دوی وویل ددې کار په ترسره کیدو به نه یوازې د ښوونځي ستونزې لرې شي بلکې د ښوونځي شا او خوا او سیدونکو ته به هم د پاکو اوبو زمینه برابره شي عــزیزي وویل د اوبو ریاست، د انجنیرانو له تخنیکي او فني مرستو ډېره مننه او تولو نړیوالو موسسو نه هیله کوو چې افغانانو ته په وریښو ستونزو کې لاس ورکړي او د وچکالۍ له ناوړه اغیزو یې وژغوري .

وروسته په خپل وار د اوبو رسولو رئیس ملا عبدالرزاق «عارفي » او د پوهنې وزارت د پلان او نړیوالو چارو رئیس مولوي منصور د دغې موسسې کار وستایه له دعایې وروسته د مولوي منصور لخوا د ښوونځي د اوبو سیستم پرانستل شو .محمد رفیق «عزت»

دفتر نماینده گي ...

خویش آغاز نمود .

یك منبع مسئول در زمینه به خبرنگار ما چنین اظهار داشت :

این شرکت علی الرغم دفاتر داخلی خویش درشهر های کابل ، هرات ، کندهار ، مزارشریف ، کندز ، جوزجان ، بغلان ، خوست ، گردیز وننگرهار خارج از کشور نیز نمایندگی ایجاد نمود ومصمم است تا دفاتر نمایندگی خویش را بزودی درشهرهای کویته ، اسلام آباد و کراچی پاکستان نیز رسماً افتتاح نماید.

درولسوالي ...

یك منبع مسئول ضمن تایید این خبر به خبرنگار اضافه داشت که این جنراتور به پول شخصی یکتن از اهالی ولسوالی متذکره خریداری و مساعدت شده که با نصب آن هفت محراب مسجد نیز در آن قرا، از نور برق بهره مند شد .

از اثر حادثات ترافیکی طی سال جاری ۱۵ کشته و ۵۲ مجروح بجامانده است

کابل- شریعت:

درپایتخت تاریخی کشور حدود «۱۱۷۵٦۲» عراده وسایط مختلف النوع بالفعل شامل جریان ترافیك میباشد . این مطلب رامحترم آغامحمد «ملنگیار حسین خیل » قوماندان کندك مراقبت ترافیك شهر به خبر نگار روزنامه گفته افزود :

از آغاز سال جاری الی اکنون به تعداد ٤۱ حادثه ترافیکی در سطح شهرکابل رخ داده که از جمله ۱۳ حادثه فوت ۲٦ حادثه جرح ودو حادثه خساره مالی ثبت گردیده که از اثرحوادث فوق ۱۵ کشته ۵۲ مجروح هشت عراده موتر و سه باب دکان خساره مند شده اند وی علاوه کرد درشهر کابل به تعداد ۱۹۵۹٤ عراده لاری شخصی ۱۰۲۲۰ عراده لاری امارتی ٤۰٤۸۷ عرداه وسایط تیز رفتار شخصی و ۹۹۹۵ عراده وسایط تیز رفتار امارتی به تعداد ۱۹٦۵۱تکسی و به تعداد ۱۵۰۲٤ عراده بس شخصی و ۳٦۰۰ عراده بس امارتی ثبت وراجستر بوده ویا الفعل شامل جریان ترافیك جاده هستند البته این تعداد وسایط شامل موسسات خارجی و وسایط کور دپیلوماتیك نمیباشند .

محترم ملنگیار حسین خیل در قسمت پاکسازی جاده از وجود کراچی ها ، تبنگی ها ، غرفه ها وغیره گفت : طبق فیصله کمسیون محترم امنیتی شهر کابل ساحات مزدحم از وجود کراچی ها تبنگی ها و غرفه ها پاکسازی گردیده توسط موظفین ترافیك وقتاً فوقتاً از آن کنترول به عمل میاید . البته بخاطر ممانعت متداوم جریان سالم ترافیك به همکاری ریاست ترانسپورت وشاروالی ایستگاه های کلوله پشته ، چارقلعه ، قلعه فتح الله ، مکروریان ها ، میدان هوایی ، پلچرخی ، تره خیل ، هود خیل ، پکتیا کوت وغیره را درساحه مراد خانی جابجا نمودیم تابتوانیم از جریان ترافیك شهر وارسی کامل نمایم ، همچنان برای تمام وسایط که در لین ها فعالیت دارند ابلاغ گردید تا دراتنقال هموطنان از بام های وسایط کار نگیرند تا این عمل سبب مرگ ویامجروح شدن هموطنان نگردد .

نامبرده وقوع حوادث ترافیکی را قصور انسانی ، وضع جوی ، شرایط نامساعد آب وهوا ،عوارض تخنیکی عرداه جات ، حالت وساختمان جاده و عدم مراعات لوایح ترافیکی دانست واز همشهریان و شاملین ترافیك جاده تقاضا نمود تا در تطبیق قانون ترافیك با موظفین آن اداره همکاری نموده خود وسایر شاملین ترافیك را مصئون سازند .　　جاوید

مبارزین لبنانی آماده جواب به حملات صهیونستها اند

رادیو تهران - شریعت :

طیارات رژیم صهیو نستی بار دیگر مناطق سرحدی لبنان را مورد هدف مرمی قرار دادند پس ازحملات هوایی طیارات اسرائیلی دردو روز قبل اوضاع جنوب لبنان هنوزهم بحرانی شده است که دیروز بازهم مناطق سرحدی لبنان را مورد هدف مرمی قرار داد نددرعین حال مبارزین لبنان گفته اند که به هر گونه تجاوز جواب دندان شکن میدهند .

امریکا از روابط دوستانه کشور ها نگران میشود

رادیو تهران - شریعت :

امریکا از روابط دوستانه کشور ها نگران میشود دولت امریکا درمورد عقد قرارد اد نفتی میان ایران وایتالیا ابراز نگرانی کرده و مخالف سرمایه گذاری ایران دربخش نفت است . ایران وایتا لیا اخیراً به ارزش یك ملیارد دالر قرارداد فروش نفت را امضأ کرده اند .

درهرات یک مقدار ..

یازده میل کلا شینکوف ، دومیل ماشیندار ثقیل ، دومیل راکت انداز ویکتعداد مهمات مختلف النوع بود ، که غرض ایجاد بی امنیتی از سو بی مخالفین به داخل کشور قاچاق گردیده بود از اثرسعی وتلاش موظفین امنیتی اخیراً درمربوطات ولسوالی گذره کشف وبدست آمد ، است .

برنده مسابقه ...

ورزشی کابل گزارش داد، اعضای تیم های سپاوون واتحاد حوالی ساعت سه ونیم عصر وارد میدان ورزشی گردیده که در تایم اول بازی اولین گول پنلاتی توسط هارون یکتن از بازیکنان تیم اتحاد وارد گول سپاوون گردید . همچنان درتایم دوم بازی خسرو گول دوم را به نفع تیم اتحاد به ثمر رسانید دراین مسابقه تعدا د کثیر ی از علاقمندان ورزش جمع شده بودند تیم سپاوون دوکارت زرد جزایی و تیم اتحادیك کارت زرد جزایی از طرف داور میدان نصیب شدند .

عمر عبدالله

چین در مقابل ...

د خواهم گرفت رئیس جمهور چین گفت درمقابل باداری امریکا درجهان خواهیم جنگید زیرا امریکا میخواهد درجهان یکه تازباشد و تایوان را کمك میکند .

متشبثین خصوصي ..

مایه گذاری فابریکه یخ سازی افضل است . حاجی افضل رئیس فابریکه یخ سازی افضل به خبر نگار ما گفت: این فابریکه به سرمایه یك ملیارد سه صدملیون افغانی در جاده سالنگ وات روزانه هفتصد قالب یخ را تولید نموده چون هوا زیادگرم است که تولیدات ما به مصرف مردم کابل میرسد ، مابخاطر حفظ صحت مردم خویش درهرماه چاه های عمیق ذخیره آب را کلور پشن مینمایم که کلور را اکثراً از وزارت محترم صحت عامه دستیاب میشویم ،همچنان ماهانه آب چاه ها را غرض لابراتور به وزارت محترم صحت عامه ارسال میداریم که پس از بدست آوردن نتایج مثبت از آن در تولیدات خویش استفاده مینمایم حاجی افضل افزود بخاطر تشویق وانسجام بهتر کاری تجارملی باید دریك ساحه سرمایه خویش را به کار اندازند تا ضروریات خویش ومردم را رفع نمایند تقاضاداریم تا وزارت محترم معادن وصنایع یك قطعه زمین را درساحه پارکهای صنعتی در اختیار ما قرار دهد تا به صورت بهتر وخوبتر مصدر خدمت به مردم وکشور خویش گردیم. درانی

درایران دو تن ...

قتل رسانیده بودند پریروز از طرف محکمه انقلابی ایران اعدام گردیدند .

جنایات امریکایي ها

از اعمال جنایتکارانه یك سرباز خویش درآن جزیره ابراز تاسف کرد .

قرارگزارشها سربازمذکور درجزیره اوکیناوابه یك زن تجاوز جنسی نموده بود مقامات دولت جاپان درمورد این واقعه دچار خشم شدید شده اند . یك هفته قبل نیز دراثر تجاوز دسته جمعی عساکر امریکایی به یکتعداد اززنان دراوکیناوای جاپان سروصدای مرد م بالاگرفته بود.

اعتذار

درشماره روز یکشنبه ۱۰ ربیع الثانی شماره مسلسل ٤۲۵ و تاریخ آن ٦ ربیع الثانی به چاپ رسیده شده بود .

از خواننده گان محترم تقاضا داریم تا شماره مسلسل را به ٤۲٦ و تاریخ آنرا به ۱۰ ربیع الثانی تصحیح ومطالعه فرمایند.

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید .